PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

الله پاک تاسې ته امر کوي چې امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ. او چې کله مو د خلکو په منځ کې پریکړه او حکم کاو، نو باید په عدل او انصاف سره یې وکړئ. بیشکه الله پاک تاسې ته ډېر ښه نصیحت کوي. او الله پاک ښه اوریدونکی او ښه لیدونکی دی. (النساء: ۵۸)

درس حدیث

از نعمان بن بشیر (رضی الله عنهما) روایت است که:
رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمود: مثل مسلمانها در محبت و رحمت و مهربانی شان به همدیگر مانند یک جسد است، که هرگاه عضوی از آن بدرد آید، دیگر اعضای جسد در تب و بیدار خوابی با آن همراهی می کنند. (متفق علیه)

شهادت پنځم کال، ۴۳ مه ګڼه، پرله پسې ۲۴۲ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د کب ۱۳ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د جمادی الاول ۲ مه د ۲۰۱۴ م د مارچ ۴ مه

اجتماع بزرگ تیم اصلاحات و همگرایی در غازی ستدیوم



ارگ از قوت شما پریشان است و جرگه ها را دعوت میکند
(داکتر عبدالله عبدالله)

د اصلاحاتو او همپالنې ټیم د لوی الله په نصرت او ستاسې په همکارۍ د ملي زعامت محراب ته رسیدونکی دی
(انجنیر محمدخان)

بگذار در ارگ هرچه میگذرد، بگذرد ملت تصمیم خود را گرفته است
(استاد محقق)

(ص، ۴)

در جریان سیزده سال ۱۳۷۰۰ نظامی افغان کشته شده اند

کابل، رسانه ها:
حکومت افغانستان ارقام تلفات نیروهای امنیتی افغان در تقریباً ۱۳ سال گذشته را نشر کرده است.
براساس این ارقام، بیش از ۱۳۷۰۰ تن از پرسونل نیروهای امنیتی به شمول اردو و پولیس ملی در این مدت در افغانستان کشته شده اند.
تلفات پولیس ملی افغان در سیزده سال گذشته تقریباً دو چند تلفات عساکر اردوی ملی بوده است.
در مجموع ۱۳۷۲۹ تن از نیرو های

(ص ۳)

تولټاکنې او د افغان مؤمن ملت مسؤولیت

سید فضل مولا لټون (۲ مخ)

«قوای خارجی مستقر در کشور در جلوگیری جنگ کمک نمیکند»

فدا محمد فایض

با آمدن قوای خارجی به افغانستان در آغاز چنان تصور میشد که شاید جنگ در افغانستان دیگر پایان یابد و صلح و آشتی دیگر به کشور ما برگردد: اما حقیقت برعکس آن بود. از سال ۲۰۰۱ تا سال ۲۰۰۳ در افغانستان یک آرامش کلی حکمفرما بود: اما از سال ۲۰۰۳ آهسته آهسته ناآرامیها سربرافراشت. حال این خود یک سوال است که چرا از سال ۲۰۰۱ تا ۲۰۰۳ آرامش کلی حکمفرما بود نه جنگ بود و نه کدام حرف دیگری. علت آن است آنانی که جنگ را ضرورت خود میدانستند عمداً فضا را مکدر ساختند، تشدد براه انداختند و مردم را وادار به آن کردند که دست به انتقام گیری بزنند. به این ترتیب آهسته آهسته جبهۀ جنگ و مخالفت تقویت میشد، تا آنکه گپ به سرحد امروزی رسید.

(ص.۳)

ولسمشر کرزی:

په افغانستان کې جګړه د امریکا او غرب د ګټو لپاره ده

"د افغانستان په روانه جګړه کې یواځې افغانان وژل کیږي، په داسې حال کې چې دا د افغانانو جګړه نه ده."

افغانستان په روانه جګړه کې

کابل، رسنۍ:
ولسمشر حامد کرزي ویلي، چې القاعده له حقیقت څخه ډېره یوه افسانه ده او د امریکا روانه جګړه د افغانستان د ګټو لپاره نه ده پیل شوې.
ولسمشر کرزي دغه څرګندونې له امریکایي ورځپاڼې واشنګټن پوسټ سره کړې چې (د کب په ۱۲مه) خپره شوې ده.
ولسمشر کرزي زیاته کړې: "د

(۴ مخ)

ننګرهار کې د ټنبتول شوو خلکو نامعلوم برخلیک



ننګرهار، رسنۍ:
تېره اونۍ شاوخوا څلوېښت کسان هغه وخت د وسله والو له خوا وتښتول شول چې د ننګرهار د لالپورې ولسوالۍ له لارې تورخم په لور روان ول.
د ننګرهار له ګوشتې ولسوالۍ د هغو شاوخوا څلوېښتو تښتول شو ولسي وګړو برخلیک لا نه دی معلوم شوی.
وسله والو طالبانو د دوی په اړه لا څه نه دي ویلي. خو د سیمې خلکو یوه جرګه وسله والو سره د خبرو لپاره ورلیږلې ده.
جلال اباد کې زموږ همکار یرک میاخیل وایي، ...

(۳ مخ)

د پاکستان په اسلام اباد کې پر یوې محکمې برید کې ۱۱ تنه وژل شوي

پاکستان، رسنۍ:
د پاکستان په مرکز اسلام آباد کې په یوې محکمه کې د حملې له امله لږ ترلږه ۱۱ کسان مړه او له شلو زیات ټپیان شوي دي.
د محکمې په انګړ کې د ټوپکو د ډزو او چاودنو غږونه اوریدل شوي دي.
د پولیسو یوه چارواکې نیې اعوان اسوشیټډپرس آژانس ته ویلي، نامعلوم شمیر وسله والو په هغې ودانۍ حمله وکړه چې؛ د قاضیانو او مدافع وکیلانو دفترونه په کې دي. دی وایي، له لاسي بمونو څخه هم کار اخیستل شوی دی.
د اسلام آباد د پولیسو مشر سکندر حیات خبریالانو ته وویل؛ دوو تنو حمله کوونکو ځانونه الوزولي دي.
د پاکستان یو مدافع وکیل خواجه جاوید اقبال د حملې په اړه وویل:
"دري څلور چاودنې وشوې. په محکمه کې ټولو قاضیانو او وکیلانو امنو ځایونو ته منډې وهلې. پولیسو هم متقابلې ډزې کولې. کله چې موږ ...

(۳ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

اعمالکم عُمالکم

د الله تعالی له خوا رالېږل شوی استازی محمد صلی الله علیه وسلم پخپل یو حکیمانه حدیث کې فرمايي چې ستاسې عملونه پر تاسو حکومت کوي، په دې معنا چې کله د یو هېواد اوسیدونکی داسې یو څوک د اقتدار په ګدی کښېنوي چې له دیانت، امانت، صداقت، تقوا، شجاعت، علم، حکمت او سیاسي بصیرت څخه عاري وي؛ نو هغه خامخا پرخپل ولس داسې کړنې او چارې ترسره کوي چې دهغه د خوښې ترجماني کوي، څرګنده خبره چې له داسې خالي الذهن او غافل واکمن نه، نه له ملت سره د خواخوږي او شجاعت تمه کیدلی شي او نه هم د شفافیت او ښه حکومت والی، هغه به خپل ولس ته له ستونزو، درغلیو، رشوتونو، ناامنیو، بداخلاقیو او غربت پرته بل هېڅ نشي ورکولې ځکه چې دهغه مثال د تش منګی په څېر دی او له تش منګي نه اوبو غوښتل له حماقت پرته بل څه نشي کیدلې.

د راتلونکي وري شپاړسمه د هېواد د زعیم د ټاکلو ورځ ده، په دې ورځ به د افغانستان مسلمان ولس خپل ولسمشر ټاکي؛ خو ولسمشرۍ ته ولاړ یوولس تنه کاندیدان په بشپړ ډول د رأیه ورکوونکو رحم او کرم ته ولاړ دي، یا په بله معنا هغوی کچکول په غاړه له ولس نه د رأیو ورکولو سوال کوي. هغوی په مطلق ډول لاچار، او رأی ورکوونکی وربانديې برلاسي او خپلواک دي، اوس یواځې ملت کولی شي چې هېواد لپاره یو مناسب شخص د ولسمشري لپاره غوره. او هېواد ته یو ښه مستقبل ور په برخه کړي، موږ افغانان ټول عمر له چارواکو څخه سرټکولی دهغوی د بې انصافۍ او ظلم په ژرنده کې دل شوي یو، حقوق مو تر پښو لاندې او بیت المال مو شخصي جیبونو ته ولوید. لنډه دا چې په فساد کې په سلو کې سل د حکومت لوړ پوړي چارواکي ملوث دي. مګر دهغوی له دې ظلم او ناانصافي څخه د وتلو یواځینۍ آسانه او معقوله لاره همدا ټاکنې دي، که ملت په دې ټاکنو کې له فهم فراست او عقل نه کار واخلي او خپلې رأيې په بشپړې ایمانداری او صداقت استعمالې کړي؛ نو له څه شک پرته په افغانستان کې د یوی ښې حکومت والی بنسټ ایښودلې شي، بیا به نه فساد وي او نه درغلي، نه به بې انصافي وي او نه هم ناامني او بدمعاشي؛ بلکې هر څه به د قانون د حاکمیت په چوکاټ کې ترسره کېږي، خو که الله مه کړه ملت د دومره ډېرو ناخوالو سره سره بیا هم د زعامت په ټاکلو او پیژندلو کې اشتباه وکړی او خپلې رأيې داسې چاته ورکړي چې د زعامت له اسلامي او اساسي اوصافو څخه عاري وي؛ نو د خپلو چارو واګې به یې پخپلو لاسو نااهلو اشخاصو ته سپارلي وي.

په ټاکنو کې رأیه ورکول د ملت اعمال او د رأیو په نتیجه کې اقتدار ته رسیدلی حکومت زموږ چارواکي دي. دې لپاره چې ملت خپل ایماني او ملي مسؤولیت په صحیح معنا ترسره کړي وي ددې تر ټولو معقوله لاره همداده چې ملت د خپل برخلیک د ټاکلو په دې حساسو شرایطو کې له بشپړ غور او دقت څخه کار واخلي او هغه چاته رایې ورکړي چې له پیل نه یې خپل ولس ته دهغوی دارمانونو مطابق د دریو لویو اسلامي ګوندونو د یووالې زیرې ورکړی او په عملي ډګر کې یې دا ثابته کړی چې د خپل ولس او خاورې خیرغوښتونکي دي، که چېرته ملت اوس هم له خپل دغه قیمتي وخت او قیمتي رأیو نه صحیح ګټه پورته نه کړي؛ نو بیا د لاس مروړلو او او پښیمانۍ پرته بل هېڅ نشي کولې.

سید فضل مولا لټون

ټولټاکنې او د افغان مؤمن ملت مسؤولیت

بالاخره تر مؤقتې، انتقالې او دوه انتخابي دورو وروسته ددې وخت راورسېد چې افغانان د دریم ځل لپاره د رأیو صندوقونو ته ولاړ شي او خپل راتلونکی مشر او په عامه اصطلاح جمهور رئیس وټاکي، دا ځل ټاکنې له تېرو دوه دورو سره ډېر توپیر لري، یو دا چې پخپله برحال جمهور رئیس د اساسي قانون د حکم پر اساس د دریم ځل لپاره کاندید نه دی، دویم دا چې په دې ټاکنو کې له یوې خوا زیاتره چپي ځواکونه سره یوځای ښکاري او غواړي چې یو ځل بیا په تشو خو جلبوونکیو شعارونو زموږ مؤمن ملت تېر باسي، موږ او تاسې یې وینو او اورو چې، له هماغو خولو نه د قرآن عظیم الشان آیتونه او د پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم احادیث اورېدل کېږي، چې پرون یې قرآن کریم د عربو د کیسو کتاب او پیغمبر اکرم صلی الله علیه وسلم د ټول بشریت لارښود نه؛ بلکې عربي لوړاوي ته بلونکی باله او ان تر دې چې نعوذبالله د الله جل جلاله له وجود نه یې انکار کاوه، اسلام یې توره ارتجاع باله. بلې خواته د افغانستان د مؤمن ملت آزادي بخښونکی مجاهدین دي، چې د چوکۍ، واک او یو څو پیسو د لاسته راوړنې په خاطر یې خپله روښانه او تاریخي ماضي هېره کړې ده او په بېلا بېلو ډلو او ګروپونو ویشل شوي دي او د مقابلې ډګر یې ګرم ساتلی دی، او په پټو سترګو په هغه چا پسې روان دي چې تر پرونه یې خپلې عقیدې پر بنسټ خپل دښمنان بلل او د یو ځای کېدو او پخلاینې خبره خو یې ډېره لرې ګڼله.

که څه هم دا باید ومنو او ترینه انکار هم نه شي کېدای، چې زموږ ویاړلیو مجاهدینو هم بې شمېره خپلمنځي مشکلات لرل، چې له لامله یې له خورا زیاتو ستونزو سره مخامخ هم شول، چې زموږ د تاریخ ژوندی برخه ده.

یې د لاسونو پر غزوونکیو بار کړ. او که اوس په نورو پسې روانېږي. ګټه به یې دهغوی وي او احسان یې پر دوی.

زموږ مؤمن ملت مکلفیت لري چې په ټاکلې نېټه د رأیو صندوقونو ته ولاړ شي او خپله رأیه وکاروي. ولې اصلي، ایماني، وجداني او ملي مسؤولیت یواځې دا نه دی چې یو چاته رأیه ورکړي او بس.

یو چاته رأیه ورکول په حقیقت کې دهغه ترځنګ درېدل، دهغه ملاتړ او له هغه سره په چارو کې شریکېدل دي او دا کار په حقیقت کې دنیوي او اخروي مسؤولیت منل دي، ددې لپاره چې هم مو دنیوي او اخروي مسؤولیت ادا کړی وي او هم مو خپله ټولنه، ملت او هېواد د استکبار له هر اړخیزو یرغلونو ژغورلی وي لازمه ده چې زموږ مؤمن او مجاهد ملت له خورا غور او دقت نه کار واخلي او خپلې رأیې په مناسبه طریقه وکاروي.

همدا ډول داسې ښاغلي هم په دې میدان کې موجود دي چې د یو څو پیسو ټکو په مقابل کې یې له خپلو ورونو واټن نیولی او په ټاکنیز ډګر کې د مجاهدینو د رأیو د وېش لامل کېږي، ددې ترځنګ هغه ښاغلي هم باید وپېژنو چې د خپلو ځانګړیو ګټو په خاطر د خپلو همسنګرانو عقیدوي تړاو دواړه تر پوښتنې لاندې راولي.

اوس به د حزب اسلامي افغانستان، جمعیت اسلامي افغانستان او حزب وحدت اسلامي مردم افغانستان په ټاکنیز ائتلاف او یا په بله وینا د اصلاحاتو او هم پالنې پر ټیم یو څه رڼا واچوو او هغه دا چې د مقدس جهاد په دوران کې یادو جهادي ګوندونو او ترڅنګ یې د شهید استاد عبدالعلي مزاري په رهبرۍ د اهل تشیع ورونو د وحدت اسلامي جهادي ګوند چې اوس یې مشري استاد محمد محقق پر غاړه لري، د جهاد په سنګرونو کې قوي ترین ګوندونه وو او رشادتونه او شهادتونه یې له هیچا پټ نه چې د مقدس جهاد د تاریخ زرین بابونه دي، ولې د مقدس جهاد له بري یعنې د پخواني شوروي اتحاد د سرو لښکرو له ماتې او د شوروي امپراتورۍ تر ړنګېدا او بیا په افغانستان کې د کمونیستي رژیم له ماتې وروسته چې د جهاد، اسلام او افغانستان کورنیو او بهرنیو دښمنانو د مجاهدینو له خپلمنځی اختلاف نه کومې بدې استفادې وکړې، چې همدغه بدې پېښې هم له یوې خوا د مقدس جهاد د اهدافو د تحقق په لار کې خنډ شوې، بل لوري ته یې زموږ ګران هېواد ته په نظامي، اقتصادي او ټولنیزو برخو کې ستر زیانونه هم له ځانه سره په ارمغان راوړل. هېواد مو د طالبانو په راتګ سره د نړیوالې انزوا خواته ولاړ، او د ګران هېواد د ورونو میلیتونو ترمنځ د دښمنۍ اور ته د کورنیو لنډ فکریو او بهرنیو دښمنانو له لوري ښه پکې ووهل شول. افغانستان د نړیوالو توطئو پر مرکز بدل شو او مولیدل هغوی چې پرون یې د طالبانو عقیدوي، اقتصادي او نظامي تغذیه پر غاړه لرله. په (۱۸۰) درجو شاګرځ یې د متحده ایالاتو او ناټو د ځواکونو ملاتړ اعلان کړ.

ولې پوښتنه داده چې ایا د خپلمنځي مشکلاتو د له منځه وړلو د حل لاره لا پر زخمونو مالګې دوړول او دوام ورکول دي او که د مرهم پټۍ ایښودل؟ زه خو وایم چې ددغو خپلمنځي ستونزو تراخه ټولو ولیدل، د ځانونو د تقویې لپاره یې هرې خواته لاسونه وغزول، خو هر لوري ته یې چې لاسونه وغزېدل، هغوی دغه غزېدلي لاسونه د ځان په ګټه وکارول او احسان

په مخالفت کې درېږي. حال دا چې په همدغه سنګر کې یې د قربانۍ کچه تر هیچا کمه نه ده. انسان له سهوه او اشتباهاتو سره یو ځای دې نړۍ ته راغلی دی، ولې څومره چې اشتباهات د کور دننه حل کېدای شي، د اختلاف او لرېوالي په شتون کې هیڅکله نه حل کېږي. لا چې په غمیزو پسې غمیزې زېږوي چې په حقیقت کې زموږ اهلیت او

زموږ مؤمن ملت د پورته نغوتو او اشارو په پایله کې دنده لري، چې هغه ټیم ته رایې ورکړي، چې د مقدس جهاد په دوران کې د قربانیو، شهادتونو او رشادتونو ونډه تر هر چا زیاته ده او اوس که خدای جل جلاله کول د بریالیتوب په صورت کې د سولې، امنیت، ملي یووالي او پرمختیا لپاره ښې لارې چارې برابرولای شي.

«قوای خارجی مستقر در کشور در جلوگیری جنگ کمک نمیکند»

فدا محمد فایض

جنرال عبدالرازق قوماندان امنیهٔ کندهار شکایت نموده است که قوای خارجی مستقر در افغانستان فعالیتهای دهشت افگنانه را نادیده گرفته برآن چشم پوشی میکنند.

این حرف یک مقام مسؤول امنیتی کدام ادعای بیهوده یی نیست؛ بلکه ارتباط میگیرد، به یک سیاست کلی این نیروها که در سال ۲۰۰۱ که این نیروها به بهانهٔ به اصطلاح جنگ با تروریزم به افغانستان آمدند، همگان میدانستند که نه ملت افغان تروریست است و نه افغانستان زادگاه و پرورشگاه تروریزم، حتی کسی مثالی آورده نمیتوانند که مجاهدین قهرمان افغان در زمان حضور نیروهای روسی در افغانستان، یک عملی را که تروریزم خوانده شده بتواند انجام ندادند، بلکه مردانه وار در برابر قوای خارجی یعنی روسهای متجاوز جنگیدند و بالاخره به یاری پروردگار روسها را شکست داده از خاک خود کشیدند (۲۶ دلو ۱۳۶۷). این که هنوز هم عده یی از کمونستها شکست روسها را زادهٔ شرایط دیگر منطقوی وبین المللی و حتی شرایط داخلی شوروی میداند حرف جداگانه یی است. آنها خروج مفتضحانهٔ روسها را هم از شهکاریهای داکتر نجیب آخرین مهرهٔ مسکو در کابل میدانند و به این ترتیب میخواهند تمام عملکردهای اسلام دشمنانه و ملت دشمنانهٔ خود را بپوشانند.

با آمدن قوای خارجی به افغانستان در آغاز چنان تصور میشد که شاید جنگ در افغانستان دیگر پایان یابد و صلح و آشتی دیگر به کشور ما برگردد؛ اما حقیقت برعکس آن بود. از سال ۲۰۰۱ تا سال ۲۰۰۳ در افغانستان یک آرامش کلی حکمفرما بود؛ اما از سال ۲۰۰۳ آهسته آهسته ناآرامیها سربرافراشت. حال این خود یک سوال است که چرا از سال ۲۰۰۱ تا ۲۰۰۳ آرامش کلی حکمفرما بود نه جنگ بود و نه کدام حرف دیگری. علت آن است آنانی که جنگ را ضرورت خود میدانستند عمداً فضا را مکدر ساختند، تشدد براه انداختند و مردم را وادار به آن کردند که دست به انتقام گیری بزنند. به این ترتیب آهسته آهسته جبههٔ جنگ و مخالفت تقویت میشد، تا آنکه کسب به سرحد امروزی رسید.

اصل حرف این است که آمدن قوای خارجی فلسفهٔ دیگری دارد نه اینکه بخاطر تأمین صلح و خاتمهٔ جنگ به این سرزمین آمده باشند. برای بوجود آوردن وضع فعلی در افغانستان سالیان درازی کار صورت گرفت، بخصوص بعد از آنکه شکست قوای روسی در افغانستان یقینی شد، شالودهٔ آمدن به این کشور را ریختند. من باور دارم و امروز این حقیقت از نظر هیچکس پوشیده نیست که در عقب شعار جنگ علیه تروریزم اهداف بزرگ دیگری نهفته است. امروز می بینیم که جنگ تا دروازهٔ روسیه رسید، موضوع اوکراین کاملاً آشکار است، از اینجا دانسته میشود که کشورهای غربی در منطقه اهداف بسیار وسیعی دارند و افغانستان پایگاهی است که ازینجا آسیای میانه، جنوب آسیا، و شرق میانه حتی چین و کشورهای دیگر منطقه بخوبی کنترول شده میتواند. ما باید جنگ در افغانستان را تنها ازین ناحیه نبینیم که یک عده افراد بنام مخالفین حضور قوای امریکایی یا خارجی در افغانستان می جنگند و مخالف این حضور هستند، اگر حرف همین باشد پس برای این سوال چه جواب وجود دارد که قبل از حضور نیروهای خارجی در افغانستان چرا جنگ سربرافراشت هر دو طرف مسلمان بودند، هر دو طرف افغان بودند و هر دو طرف مدعی آوردن نظام اسلامی در کشور بودند. یقیناً از دیدگاه اسلام به این سوال پیدا کردن جواب کار دشواری است در حالی که مذهب امام ابوحنیفه (رح) براین مسأله تأکید دارد تا زمانی که از امام و خلیفه کفر بواح صادر نشده باشد خروج در برابر آن جواز ندارد. بلی هرگاه کفر بواح از آن صورت گرفت باز در آن صورت خروج واجب است.

متأسفانه در آشفته ساختن اوضاع در آن وقت کسانی هم حضور داشتند که خود را پیروان درجه یک حضرت امام ابوحنیفه میدانستند.

امروزه درین شکی نیست که عده یی شاید براساس مذهب مخالفت بورزند که حکم شریعت درین مورد واضح است و علمای کرام ما آنرا خوبتر میدانند و من و آن در مورد بحثی ندارم؛ ولی عده یی هم حتماً هستند که فقط وظیفه بر هم زدن اوضاع را دارند.

در آغاز همین هفته براساس اظهارات مسؤولین ولایت هرات سلاحهایی توسط یکعده افراد از هرات به بادغیس با امضای جعلی والی و قوماندان امنیهٔ آن ولایت انتقال میشد که عاملین بجرم خود اعتراف کردند این سلاح بکجا برده میشد؟ انتقال کنندگان اعتراف کرده اند که این سلاح در قول اردوی هرات از سوی افراد بیرونی به آنها داده شده است که درین رابطه به وزیر داخله وظیفه داده شده که از خارجیها بپرسد. البته قبل ازین هم حوادث مشابهی بوقوع پیوسته است که نیازی به تفصیل بیشتر ندارد.

اکنون یک تضاد واضح وجود دارد، و آن، این که ملت افغان نیاز عاجل به صلح دارد؛ ولی دیگران اهداف دیگری دارند. دولت افغانستان مسؤولیت دارد درین رابطه در برابر این نیروها چه منطقوی و چه هم بین المللی یک سیاست روشن در پیش گیرد. اوج و حضیض در موقفگیریها بزیان ما تمام میشود نه به نفع ما.

په افغانستان کې جګړه ...

یواځې افغانان وژل کېږي، په داسې حال کې چې دا د افغانانو جګړه نه ده."

د هغه په وینا، په افغانستان کې له تېرو دوولسو کلونو راهیسې جګړه د امریکا د ثبات او د مغرب د ګټو لپاره روانه ده.

په دې مرکه کې ولسمشر حامد کرزي د القاعده ډلې په اړه ویلي، چې دغه ډله له حقیقت لرې او یوه افسانه ده او له دې ډلې سره د تړاو په تور چې امریکا څومره کسان بندیان کړي، ډېری یې بې ګناه دي.

ولسمشر حامد کرزي له واشنګټن پوسټ سره دغه تېزه مرکه په داسې حال کې کړې، چې دوه میاشتې وروسته د هغه د واکمنۍ دوره پای ته رسېږي.

هغه له خپلې واکمنۍ وروسته په وروستي کال له امریکا سره پر امنیتي سند خبرې بشپړې کړې، خو په وروستیو کې یې پر دغه سند له لاسلیک څخه له دې امله انکار وکړ، چې امریکا د سولې په پروسه کې عملي همکاري نه کوي.

واشنګټن پوسټ ورځپاڼې د ولسمشر کرزي د پورته څرګندونو په ځواب کې د امریکایي چارواکو په حواله لیکلي، چې امریکا په افغانستان کې مالي او ځاني قرباني ورکړې دي.

د هغه په وینا، په دې جګړه کې تر دوه زرو زیات امریکایي سرتېري وژل شوي او ۶۰۰ میلیارده ډالره لګښت یې کړی دی.

سرچینې د امریکایي چارواکو په حواله لیکلي: "حامد کرزي داسې مشر دی، چې په تېرو ۱۲ کلونو کې له اتحادي څخه مخالف ګرځېدلی دی."

د امریکا ولسمشر بارک اوباما تېره اونۍ په ډاګه کړې وه، چې د افغانستان له ولسمشریزو ټاکنو وروسته به له نوي ولسمشر سره امنیتي سند لاسلیک کړي.

ولسمشر کرزي په یاده مرکه کې ویلي، دا به ښه وي چې امریکا دغه سند د کرزي له ځای ناستي سره لاسلیک کړي.

په دې مرکه کې ولسمشر حامد کرزي د امریکایي ځواکونو په عملیاتو کې د ملکي وګړو پر وژل کېدو د ژورې خواشینۍ څرګندونه کړې ده.

د یادونې ده، تر دوو کلونو وروسته دا لومړی ځل دی چې ولسمشر کرزي له کومې امریکایي رسنۍ سره مرکه کوي.

ننګرهار کې د تښتول ...

دغه کسان د تورخم په لور روان وو چې د لالپورې په اړونده سیمه کې وسله والو له موټرو نه کوز کړل، او یو تن یې په هغه ورځ وواژه.

په ولسي جرګه کې د ننګرهار د خلکو استازی فریدون مومند وایي، د (جنود خراسان) په نوم یوې وسله والې ډلې دوی یې د پاکستان پولې ته نژدې درېنه اوپرچاو په نوم یوې سیمې ته بیولي، او له دولت سره د همکارۍ په تړاو یې نیولي، خو لا تراوسه د یرغمل کوونکو سره مخامخ خبرې نه دي شوي.

د ننګرهار ولایتي چارواکي وایي، اړونده امنیتي ادارو ته دنده سپارل شوې چې د دې وګړو د را خوشې کېدو په اړه هلې ځلې وکړي.

همدارنګه د دې اونۍ په پیل کې د کندهار د غورک ولسوالۍ نه هم پولیس ولسي وګړي له دولت سره د مرستې په تړاو تښتول شوي دي.

غورک، د کندهار ښار شمال ته په سل کیلومتري کې پرته ولسوالي ده، چې د کندهار د ټالمنو ولسوالیو خاکریز او میوند تر څنګ د هلمند له سنګین او د ارزګان له دهراود ولسوالیو سره پوله لري.

د پاکستان په اسلام اباد...

د الله اکبر نارې واورېدلې، پوه شولو چې حمله طالبانو کړې ده. وسله والو د محکمې دروازه خلاصه کړه او په وکیلانو یې ډزې پیل کړې."

په تلویزیوني راپورونو او تصویرونو کې ښکاري چې؛ د حملې په ځای کې د ودانیو کړکۍ ماتې شوې، دېوالونه نړېدلي او خلک ټپیان او مړي انتقالوي.

د زعامت مستحق څوک دی؟!

نصرالله

ولسمشرۍ ته ولاړ یو شمېر کاندیدان کوښښ کوي چې خپل ځانونه د افغانستان خواخوږي او د ولس خدمتکاران وښئي، کمپاینران یې هم پخپلو خبرو کې هغوی په داسې غټو غټو القابو یادوي چې ګویا واقعاً خپل ټول ژوند یې د خپل هېواد او ولس په خدمت کې تېر کړی دی؛ خو که موږ لږ غونډې هم دهغوی پر ماضي کره کتنه وکړو؛ نو داسې څه نه تر سترګو کېږي چې له ولس سره دهغوی پر خدمت او خواخوږي دلالت وکړي؛ بلکې برعکس دې نتیجې ته رسېږو چې هغوی نه یوازې پخپل ټول ژوند کې د هېواد او ولس لپاره کوم خدمت نه دی کړی؛ بلکې له فرصت نه د ګټې په اخستلو سره افغانستان ته ډېر مادي، معنوي او کلتوري تاوانونه هم اړولي دي، هغه کاندیدان چې اوس خپل ځانونه د افغانستان خواخوږي او خدمتکار ښکاره کوي هغوی دې لږ غونډې په دې خبره هم رڼا واچوي چې له روسي یرغلګرو ځواکو په خلاف په مقدس جهاد کې چېرته ول؟ آیا په دومره لوی جهاد کې د افغانستان د دښمنانو په خلاف چېرته کوم دز او یا هم له کوم یتیم، معلول او ټپي سره یې چېرته یوه روپۍ نقده مرسته کړې ده؟! هغه وخت خو په امریکا او اروپا کې اوسېدل، پخپلو تجارتونو او کارونو بوخت ول. ان چې د ګټو کاندیدانو ودونه هم له غیر مذهبي ښځو سره شوي دي، همغلته یې پانګونه کړې، دهمغه ځای تابعیت یې ترلاسه کړې او د همغو ځایونو په کلتور کې رنګ شویدي، دا خو له ۲۰۰۱ کال نه وروسته چې کله امریکا او ناټو هېوادو ځواکونه افغانستان ته داخل شول، ورسره جوخت دغه اشخاص هم د آسمان نه د ږلۍ په څېر د افغانستان په خاوره وورېدل، نه یې چا نوم پېژانده او نه شهرت. د کرزي په ۱۲ کلنه موده کې وزیران هم شول او معینان، رئیسان هم د خپلو دندو پر مهال یې اداري فساد ته دومره وده ورکړه چې ان په ټوله نړۍ کې یې د فساد لومړی ځای وګاټه. ولس له دغو محترمو کاندیدانو څخه پوښتنه کوي چې که تاسو له افغانانو سره خواخوږي درلوده؛ نو تراوسه پورې مو د افغانستان په کوم ولایت کې ښوونځي، مدرسه، مرستون، شفاخانه، کلینیک، پُل او رفاهي کارونو لپاره کومه اداره جوړه کړې ده؟! که تاسې په دې دولسو کلو کې د خیر او ښېګڼې له کارونو نه بې برخې یاست او له خپل ولس سره د خواخوږۍ کوم ثبوت مو نه دی ورکړی؛ نو لدې وروسته به له غریب ولس سره څه وکړئ؟!

چا چې د افغانستان له خاورې او مظلوم ملت سره مینه درلوده هغوی د غم او خوشحالي په دواړو حالتونو کې د افغانستان خاوری ته ترجیح ورکړې، لوړې تندې یې هم ګاللې او شهادتونه هم، نه یې خپل ولس ته شا کړې او نه هم د خپل هېواد له دفاع نه، نه یې خپل کلتور پرېښې او نه هم افغانیت؛ بلکې په ډېره مېړانه یې د خپل هېواد پولې هم ساتلې او خپل ملي عنعنات هم. اخر د افغانستان غیرتي ولس به په کوم ضمانت او باور دوی ته رایې ورکړي چې د قربانیو پر وخت یې افغانستان ته شا کړې وه او په نورو هېوادو کې یې بې غمه ژوند تیراوه.

پکار خو دا و چې دوی انصافاً ځانونه ولسمشریزو ټاکنو ته نه وای کاندید کړی او چې کړی یې دی بیا دی هر یو له خپلو ځانو پرښته نه جوړوی، او دا ادعا دی نه کوي چې زموږ لاسونه او لمنې له فساد او ظلم نه پاکې دي، دا چې د همدوی په وزارتونو کې افغانستان د فساد لومړی مقام ترلاسه کړ ایا همدا لوی ثبوت ورته کافي نه دی چې ددوی لاسونه هم په فساد او ظلم کې ککړ دي؟ آخر دوی ولس په کوم ضمانت قانع کولی شي چې دوی به د تېر په څېر یو ځل بیا د مشکلاتو او ستونزو پر وخت افغانان یوازې نه پرېږدی او ټوله خوږه ترخه به د خپل ولس په څنګ کې تېروي؟! دا له ملت او خاورې سره کومه مینه او خواخوږي ده چې ګټه دلته کوي او سرمایه کاري په نورو هېوادو کې؟! داسې یو څوک چې سیاست او ګټه په افغانستان کې کوي او ژوند په بهرنیو هېوادو کې په کوم اخلاقي جرئت د افغانستان د مشرتابه اهل ګڼي؟ د انسان په توګه هر څوک نیمګړتیاوې لري؛ خو نیمګړتیاوې فرق کوي، هغه جنابان چې ګټه یې نورو ته او تاوان یې افغانانو ته متوجه وي هغوی هرګز د افغانستان د زعامت وړ نه دي، او نه هم د افغانستان د کوم درد دوا کېدلی شي. فلهذا د افغانستان ټولو خوږیدلیو وګړو ته پکار دي چې د هر کاندید ماضي او مستقبل ښه وڅېړي، د هر چا په مجموعي کړنو نظر واچوي، چا چې په ماضي کې د افغانستان د استقلال او د ملت د خیرښېګڼې په کارونو کې برخه نه وي اخیستې او اوس هم له شخصي ګټو پرته د افغانانو د کوم درد دوا شوي نه وي هغوی ته دې د افغانستان د مشرتابه مسؤولیت ونه سپاري، او هغه چا چې د روسانو په خلاف د جهاد په تودو سنګرو کې هر ډول ستونزې ګاللې، د ځوانۍ خوږ عمر یې د افغانستان د استقلال لپاره وقف کړی له خپلو خوږیدلیو هېوادوالو سره یوځای پخپل ټاټوبي کې اوسیدلې، د موسمي مرغ په څېر یوازې د خپلې ګټې په موسم کې ندی ښکاره شوې د غم او خوښۍ شیبې یې له خپل ولس سره یوځای تیر کړي دي هغه په هر لحاظ د افغانستان د زعامت وړ شخص دی، هیله ده چې افغانان به د راتلونکی زعامت په ټاکلو کې چې د وری په شپاړسمه د ټولټاکنې له لارې ترسره کېږي له پوره دقت او غور نه کار اخلي او په ولاړو یولسو کاندیدانو کې به هغه چاته د مشرتابه درونډ مسؤولیت ور په غاړه کوي چې په هر لحاظ په ټولیزه توګه د افغانستان د خدمت کولو وړتیا لري.

د ملي ژغورنې او ټولنيزې عدالت ګوښي ...

شهادت
اونيزه
د حزب اسلامي افغانستان تمرکزي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير: عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير: عبدالخليل "خليل"

د اړيکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي. بوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی.

ډيزاين: خواجه وحيدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مينه، کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

شهادت پنځم کال، ۴۳ مه ګڼه، پرله پسې ۲۴۲ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د کب ۱۳ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د جمادی الاول ۲ مه د۲۰۱۴ م د مارچ ۴ مه

اصلاحات او همپالنه

اجتماع بزرگ تیم اصلاحات و همگرایی در غازی ستدیوم

روز پنج شنبه ورزشگاه غازی شهر کابل شاهد همایش بزرگ و با شکوه ده ها هزار تن از شهروندان کابل بود که برای حمایت از تیم اصلاحات و همگرایی گرد هم آمده بودند. حامیان پر شوری که از گوشه گوشهٔ شهر به این مکان آمده بودند تا پای سخنان نامزد مورد نظر شان بنشینند.

در ابتدا قرار بود هواداران صرف در جایگاه مخصوص تماشا چیان قرار گیرند، اما افزایش جمعیت و انتظار عدهٔ زیادی از علاقه مندان در بیرون از ورزشگاه، باعث شد تا مردم به وسط میدان این ورزشگاه قدم بگذارند.

داکتر عبدالله نامزد تیم اصلاحات و همگرایی از حضور پرشور حامیانش قدردانی نموده و حضور گرم آنان را نشانهٔ از علاقمندی آنان به این تیم و شوق آنان به اصلاحات در کشور و همگرایی میان مردم افغانستان عنوان کرد.

آقای عبدالله سخنانش را با اتحاف دعا برای شهدای افغانستان و شهدای چند روز پیش غازی آباد کنر آغاز کرد و از عملکرد و سیاست حکومت در قبال شورشیان مسلح و دشمنان مردم افغانستان و نیز بی توجهی به نیروهای امنیتی انتقاد کرد. وی از اقدامات اخیر حکومت و بی طرف نماندنش در انتخابات پیشرو و تشکیل جرگه ها در ارگ ریاست جمهوری با برخی از نامزدان، انتقاد کرد: در این شب و روز ارگ ریاست جمهوری نگران است، جرگه ها را دعوت می کنند، کاندیدان محترم هم یک تعداد شان پریشانی های خودشان را دارند، یکی دوی شان خفه هستند که چرا آقای کرزی که وعده کرده بودشان حالا چرا به وعده خود عمل نمیکند، اینها تازه فهمیدند پس از سیزده سال تجربه، حالا فهمیده اند که حامد کرزی به وعده خود عمل نمی کند.

آقای عبدالله از مردم خواست تا بهار را با شرکت شان در انتخابات سبز تر بسازند. نامزد تیم اصلاحات و همگرایی به توضیح برخی از برنامه هایش پرداخت و خاطر نشان کرد که برنامه های آینده اش برخواسته از نیازهای مردم است و عملکردهایش بر ارادهٔ مردم استوار است:

داکتر عبدالله عبدالله: ما به امید حمایت یک شخص در اینجا نیامده ایم، ما به آروزی حمایت سی میلیون نفوس افغانستان و بخاطر سی میلیون نفوس افغانستان. تعهد ما با خدا و با مردم است و از مردم خود اطمینان داریم. بهار پر شکوه و بهار زیبای افغانستان در انتظار شما است و بهار را شما سبز تر بسازید، بهار را شما رنگین تر بسازید.

انجنیر محمد خان معاون اول تیم اصلاحات و همگرایی ضمن دعا به روح شهدای سوم حوت ۱۳۵۸ کابل، شهدای ۲۴ حوت ۱۳۵۷ هرات، شهدای غازی آباد کنر، ماه حوت را ماه خون و قیام دانست.

انجنیر محمد خان افزود: " د حوت میاشت د افغان مؤمن ملت د جهادي کارنامو او په تېره د مؤمنو کابلیانو له ویاړه ډکې ورځې لري، د حوت دریمه په کابل کې د تکبیرونو ورځ ده، شهادتونو، رشادتونو او شهامتونو ورځ ده، د پاڅون او میړانې ورځ ده، له باطل نه د کرکې، نفرت او انزجار ورځ ده، له حق سره د خواخوږي، مینې او پیوستون ورځ ده، زه له همدې موقع نه په استفادې سره د شهداو ټولو وارثانو ته، زندانیانو او معیوبینو ته د الله جل جلاله له دربار نه د نیکو بدلو غوښتنه کوم."

وی گفت: " من در حالیکه دو سال در دوران جهاد در شهر و اطراف کابل مصروف فعالیت های جهادی بودم از خدمات و همکاری همه مادران و پدران و همه خواهران و برادران که بدون هیچ نوع خستگی با من و یاران همرزمم دوشادوش همکار بودند اظهار قدردانی نموده و به رسم احترام به همهٔ آن فامیل ها سلام می فرستم.

اگر واقعه شهدای اردوی ملی در کنر، شهدای سه حوت در کابل و شهدای ۲۴ حوت در هرات را درنظر بگیریم، بهتر است ماه حوت را بنام شهرالفصل نامگذاری کنیم.

فصل بین حق و باطل
فصل بین مایوسی و امیدها
فصل بین جانبازی و غلامی ..."

همچنان افزود: " ماه حوت امسال دو ویژگی خاص دارد: یکی نامگذاری شهر غزنی بنام مرکز فرهنگی و ثقافت اسلامی عالم اسلام و دوم اوج کمپاین کاندیداهای ریاست جمهوری و شروع شدن کمپاین شوراهای ولایتی.

ان شاء الله ماه حوت امسال شاهد تصمیم قاطع ملت قهرمان افغانستان از پشتیبانی تیم پیشتاز اصلاحات و همگرایی خواهد بود، ملت حساس، دراک و ناظر حیل و توطئه های سیاسی، دیگر تحمل این همه نابسامانی ها را نداشته و تصمیم گرفته است آنرا که در ورق رأی دهی اول است اول بسازد."

وی گفت: " د اصلاحاتو او هم پالنې ټیم که د الله په نصرت او ستاسو په همکارۍ د ملي زعامت محراب ته ورسید د دولت لپاره یوه جامع پالیسي لري چې: اسلامي ارزښتونه، قانونمندي، سوله، امنیت، له فساد سره مبارزه، د سیاسي احزابو او مدني نهادونو د نقش تقویه، بشري حقوق، د ښځو حقوق، د ځوانانو د نقش تقویه، د نشه يي توکو پر ضد مبارزه، د مهاجرینو مسایل، د بندیانو، متقاعدینو، معلولینو حقوقو ته رسیدګي او داسې نور...

دا هر عنوان اوږد تفصیل لري چې په مدون شکل هېوادوالو ته وړاندې کېږي.

زموږ له نظره: د واک سوله ییز اشغال د ثبات په لور د عزیمت نقطه او د خلکو د رایو صیانت، ښه حکومت والي، مسؤولیت پذیري او خدمتګذاري په هېواد کې د ثبات د تأمین لوازم بلل کېږي.

زموږ بله برنامه د افغانستان د دفاعي او امنیتي نظام د کمي او کیفي قابلیت ارتقأ ده، په آخر کې باید ووایم چې د افغانستان امنیت له منطقې او جهان سره غوټه شوی او پدې لاره کې به ان شاء الله د منطقوي او جهاني رغنده مقابلې پالیسي جوړېږي.

سوله او امنیت د ولسونو په یووالي او پر خپل منتخب دولت د باور او اعتماد په استحکام کې نغښتې دی؛ ځکه نو موږ له تاسې یوازې رایه نه غواړو بلکه د سولې او امنیت په راوستلو او ټینګښت کې هم ستاسې کلکه مرسته غواړو.

زه د خپلو خبرو په پای کې له ټولو ګونډي رهبرانو، جهادي قوماندانانو، د پارلمان وکیلانو، قومي سپین ږیرو او مشرانو؛ له ډېرو قدرمنو خویندو او زموږ ګران هېواد ملا تیر ځوانانو محصلینو او متعلمینو او تاسې ټولو ښاغلو څخه د زړه له تله مننه کوم او د الله جل جلاله له درباره درته د اجرونو او ثوابونو دعا کوم، چې د تنې غونډې د شان او پرتم د زیاتوالي ویاړونه مو راوبخښل، درانه اوسئ."

استاد حاجی محمد محقق معاون دوم تیم اصلاحات و همگرایی تلاش حکومت برای برگزاری جلسات در ارگ ریاست جمهوری را نشانهٔ از مداخله حکومت در انتخابات و استفاده امکانات دولتی به نفع برخی از نامزدان دانست. معاون دوم اصلاحات و همگرایی خاطر نشان کرد که این تیم تعهد میکند که از طریق یک پروسه شفاف سرنوشت افغانستان را تغییر مثبت دهد:

در این روزها ارگ ریاست جمهوری وسیله ای شده است برای زدوبند ها میان چندکاندید معین که در تیم ارگ قرار دارد. آیا حضور یک تعدادی از انگشت شمار و جمع شدن در ارگ ریاست جمهوری راه حل است برای آینده افغانستان؟ باید حکومت از مداخلات خود دست بکشد.

صلاح الدین ربانی رییس شورای عالی صلح و سرپرست جمعیت اسلامي افغانستان نیز از حکومت، کمسیون انتخابات و کمسیون شکایات انتخاباتی خواست تا به رای و اراده مردم احترام بگذارند و تلاش کنند تا نتایج کارشان در انتخابات پیشرو برای مردم قانع کننده باشد. آقای ربانی افزود که در انتخابات پیشرو مردم نیز از آرای شان پاسداری خواهند کرد: باید تذکر دهم که طلسم صحنه سازی و صحنه آرایی در تقلب در رای و اراده مردم از همین اکنون شکسته است، زیرا همانطوری که مردم در اینجا به صحنه آمده اند تصمیم دارند که از رای شان نیز پاسداری کنند و از تک تک رای شان را می شمارند.

با این همه بریالی ارسلایی رییس ستاد انتخاباتی تیم اصلاحات و همگرایی از حمایت گسترده مردمی طی روزها و هفته های گذشته از تیم اصلاحات و همگرایی پس از آغاز پیکارهای انتخاباتی خبر داد. آقای ارسلایی نیز از حکومت، کمیسیون انتخابات و کمیسیون شکایات انتخاباتی خواست تا در انتخابات بی طرف باشند و به آرای مردم احترام بگذارند.

در جریان سیزده سال ۱۳۷۰۰ ...

امنیتی افغان در تقریباً سیزده سال گذشته کشته و ۱۶۵۱۱ تن در این مدت زخمی شده اند.

اداره، امور با پخش یک اعلامیه گفته است که از این ارقام در نشست روز یکشنبه شورای وزیران افغانستان پرده برداشته شد.

براساس تخمین ها، ۳۵۴۶ عسکر اردو و ۶۸۹۰ پولیس تا ماه جون سال ۲۰۱۳ در افغانستان کشته شده اند.

براساس آنچه که وزارت دفاع افغانستان می گوید، دیده می شود که تلفات عساکر اردوی ملی همه ساله افزایش یافته است.

دولت وزیری سخنگوی وزارت دفاع ملی به رادیو آزادی گفت، یکی از علت های افزایش تلفات سربازان افغان، تسلیم دهی تمام مسوولیت های امنیتی به نیروهای افغان است.

دولت وزیری ارقام یازده سال گذشته را اینگونه بیان کرد:

"در سال ۱۳۸۲، ۹ تن از عساکر اردو کشته شده اند. در سال ۱۳۸۳ پنجاه و یک تن، در سال ۱۳۸۴ یک صد و چهل و یک تن، در ۱۳۸۵ دو صد و پنج تن، در سال بعدی سه صد و بیست و پنج تن، در سال ۱۳۸۷ سه صد و هشتاد تن، در سال ۱۳۸۸ شش صد و سی و پنج تن، در ۱۳۸۹ هفت صد و شصت و نه تن، در سال ۱۳۹۰ هشت صد و چهل و یک و بلاخره در سال ۱۳۹۱ شمسی یک هزار و یک صد و هفتاد تن از نیرو های افغان کشته شده اند."

در جلسه، روز یکشنبه شورای وزیران افغانستان با شماری از خانواده های قربانیان اردوی و پولیس ملی افغان کمک های صورت گرفت.

روزنامه نیویارک تایمز گزارش می دهد که از سال ۲۰۰۹ میلادی عساکر افغان نسبت به سربازان ناتو تقریباً دو چند تلفات داشته اند.

براساس یک ارقام که از سوی انستیتوت بروکنگز نشر شده آمده است، از سال ۲۰۰۷ تا ۲۰۱۰ میلادی ۱۲۳۶ عسکر اردو و ۳۲۹۰ پولیس در افغانستان کشته شده اند.

پس براساس ارقامی که از سوی حکومت افغانستان ارایه شده، حدود هشت هزار نظامی نیرو های امنیتی افغان، از ۲۰۱۱ تا حالا در رویداد های مختلف کشته شده اند.

در ماه اگست پارسال، جنرال جوزف دنفورد قوماندان عمومی نیرو های بین المللی در صحبت با روزنامه بریتانیایی گاردین گفته بود که هر هفته حدود صد تن از عساکر امنیتی افغانستان کشته می شوند.

در ماموریت تقریباً ۱۳ ساله افغانستان، ۳۴۲۵ عسکر خارجی که ۲۳۱۳ تن شان امریکایی بودند، کشته شدند. اما تلفات نیرو های افغان حدود سه مرتبه بیشتر از آنهاست.